## اسلام د يوې ايډيالوژۍ په توګه څه ډول توکمپالنې ته د پای ټکی ايږدي

اسلام يوازنۍ ايډيالوژي ده چې د توکمپالنې د له منځه وړلو وړتيا لري. دا چې څنګه؟ نو لومړی بايد توکمپالنې پر اساس پوه شو او ويې پېژنو.

د اکسفورډ قاموس (New Oxford American Dictionary) توکمپالنه په دوو معناوو راپېژني:

1) هغه عقيده ده چې يو توکم ته پر بل باندې لومړيتوب ورکوي. تعصب، تبعيض او مخالفت ته د هغه چا پر وړاندې لاره هواروي، څو خپل توکم پر ټولو غوره وګڼي.
2) هغه عقيده ده چې د يوه توکم ټول غړي يې د هغه توکم ځانګړتياوو يا وړتياوو ته په کتو سره لري، چې له بل توکم سره يې په ټيټه يا لوړه کچه کې توپير راشي.

د توکمپالنې پر بنسټ د خلکو ترمنځ کاذبې اړيکې وي او د اړيکو اساس يې قومپالنه، هيواد پالنه او ملتپالنه ده. دا اړيکې د کورنۍ، ټبر او قوم له اړيکو څخه سرچينه اخلي. يادې درې واړه اړيکې له کاذبو مفکورو څخه رامنځته شوې، چې په اصل کې نفاق اچوي او بېلتون رامنځته کوي.

ملتپالنه هغه وخت رامنځته کېږي چې کله د واک ترلاسه کولو لپاره د بريالیتوب فکر رامنځته شي. په لومړي سر کې له يوه کورني واحد څخه پيلېږي، چې د کورنۍ يو غړی د دې کورنۍ د چارو مشري پر غاړه اخلي. کله چې دا کار وشي، نوموړی خپله مشري د کورنيو ټولو غړو ته غځوي. بيا د يوې ټولنې مشر کېږي او په پايله کې د قومونو ترمنځ سيالۍ ته لاره هوارېږي. ټول وايي چې يوه کورنۍ، يو قوم يا يو هيواد ذاتا له نورو څخه لوړ دی او ټول هڅه کوي چې ځواک او امتيازات ترلاسه کړي.

په همدې توګه ملتونه وزيږېدل. که څه هم اوس ډېری آزادخيالې سيکولر ټولنې ادعا کوي چې دوی د توکمپالنې له هرې بڼې سره تر ډېره بريده مخالفت لري. دوی د خپلې ادعا د ثبوت لپاره د اساسي قانون يادونه کوي چې د مساوات مفکوره يې پکې ځای پر ځای کړې ده. خو د اساسي قانون اساس پر ملتپالنې ولاړ دی، په دې مانا چې د دوی هيواد له نورو ټولو څخه لوړ دی. دا هغه مفکوره ده چې له بېلابېلو وسايلو، لکه د خپلواکۍ ورځ، ملي سرود او نورو له لارې يې د يادو ټولنو په دننه کې وده کړې ده. د دغو ټولو په پايله کې ټولنه هڅه کوي چې ملتپالنې ته وده ورکړي او همدغه ملتپالنه تعصب او توکمپالنې ته لاره هواروي. دا حتمي ده چې هر ملت به خپلې ګټې لري؛ د يوه ملت ګټې به د بل ملت له ګټو سره ټکر کوي او په پايله کې به مخالفت، بېلتون او شخړه په نړۍ کې رامنځته کېږي او خلک به له ښکېلاک، توکمي تعصب او توپيري چلند، غلامۍ، د کډوالو له کړکېچ او جګړو سره مخ کېږي.

د اسلام له راتګ څخه مخکې عربي ټولنه له قومي جوړښتونو څخه رامنځته شوې وه. اسلام په نړۍ کې د خلکو ترمنځ نوې ايډيالوژيکې اړيکې د اسلامي عقيدې پر بنسټ جوړې کړې او هغه نورې ټولې اړيکې يې بې باوره وګڼلې.

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِ
نَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾
**[الحجرات: ۱۳]**

***ژباړه:*** *اې خلکو! له شک پرته تاسو مو له يوه نر او يوې ښځې څخه پيداکړي يئ او تاسو مو د دې لپاره په ډلو او قبيلو ويشلي يئ، چې يو او بل سره وپېژنئ. له شک پرته د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې په تاسو کې د عزت وړ هغه څوک دی چې په تاسو کې پرهېزګار وي. الله سبحانه وتعالی په هر څه پوه او باخبره دی.*

د پورته آيت پيغام دا دی چې ټول خلک د آدم عليه السلام او حوا عليه السلام اولاده دي او په مساوي توګه له درنښت څخه برخمن دي. يوازنی توپير په دين کې دی چې د الله سبحانه وتعالی او د ده د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د اطاعت پر اساس رامنځته کېږي. يو کس د کورنې نسب له مخې نه، بلکې د تقوا له مخې د الله سبحانه وتعالی پر وړاندې درنښت وړ دی. (ابن کثير)

اسلام د اسلامي عقيدې پر پيروی ټينګار کوي او ټول خلک د بشريت د ستر خالق عقيدې ته رابولي. په اسلام کې اړيکې د اسلامي عقيدې لااله الا الله پر بنسټ ولاړې دي، نه د توکم، رنګ يا سيمې پر بنسټ.

په ډېرې ځايونو کې پيغمبر صلی الله عليه وسلم د ملتپالنې بدوالی او شومتوب په خبرو او عمل کې څرګند کړی دی.

**«لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ، وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ، وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ»**
**(ابوداود)**

***ژباړه:*** *هغه څوک چې تعصب ته خلک رابولي يا د تعصب لپاره جګړه کوي او يا د تعصب لپاره مړ شي، له موږ څ خه نه دی.*

نبي کريم صلی الله عليه وسلم په خپله وروستۍ خطبه کې وفرمايل:

**«أيها الناس، إن ربكم واحد، وإن أباكم واحد، كلكم لآدم، وآدم من تراب، إن أكرمكم عند الله أتقاكم، لي
س لعربي فضل على أعجمي إلا بالتقوى»**

***ژباړه:*** *اې خلکو! ستاسو رب او پلار يو دی. تاسو ټول د آدم عليه السلام اولاده يئ او هغه له خاورې څخه جوړ شوی دی. هېڅ عرب له عجم څخه غوره نه دی، خو په تقوا سره.*

دی صلی الله عليه وسلم يو بل ځای فرمايي:

**«إِنَّ اللَّهَ لا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُم»**

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ستاسې څېرو او رنګونو ته نه ګوري، بلکې ستاسې زړونو او کړنو ته ګوري.*

يو بل ځای بيا فرمايي:

**«أَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللَّهِ أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ»**

***ژباړه:*** *ټول خلک د الله سبحانه وتعالی بنده ګان دي او په دوی کې الله سبحانه وتعالی ته ټولو نیږدې هغه څوک دی، چې د هغه سبحانه وتعالی بندګانو ته ګټه ورسوي.*

په لاندې کیسه کې له تعصب څخه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کرکه په ډاګه کېږي:

یوه ورځ حضرت ابوذر رضی الله عنه حضرت بلال رضی الله عنه ته د (تورې ښځې زویه) خطاب وکړ. نبي کریم صلی الله علیه وسلم په قهر شو او ورته ویې فرمایل: «**إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ**» (په تا کې لا تراوسه جاهلیت پاتې دی.) ابوذر رضی الله سخت پښېمانه شو او پر ځمکه پرېوت. له حضرت بلال رضي الله عنه څخه یې وغوښتل چې د ده پر مخ پښه کېږدي.

کله چې د اسلام دښمنانو د ایډیالوژیکو اړیکو د تړاو پر بنسټ د مسلمانانو ستر ځواک ولید، دوی اړ شول چې د ملتپالنې کرغېړنه او سپکه اړیکه بیا له سره را ژوندۍ کړي. په اسلامي امت کې د عربي او ترکي ملتپالنو تر نامه لاندې درزونه ولوېدل، له دې لارې اسلامي خلافت له منځه ولاړ او اسلامي دولت په ملتونو وویشل شو. په اسلامي نړۍ کې اوسني خپلسري چارواکي د چوکۍ او موقف ساتلو په موخه د ملتپالنې او هیوادپالنې مفکورو ته وده ورکوي او همدا یو بنسټیز لامل دی چې اسلامي هېوادونو ته د ملتپالنې مفکورخ را وګرځېده.

په پای کې ویلی شو چې له تاریخي پلوه دا ناشونې ده چې خلک دې پرته له دې چې د یو او بل ګټې ونه ګواښي د ملتپالنې د کاذبو اړیکو پر بنسټ سره یوځای شي. آن که سیکولر- آزاد خیاله ملتونه هڅه وکړي چې توکمپالنه له منځه یوسي، بیا هم دوی ځکه دا کار نشي کولی چې د دوی په ټولنو کې د ملتپالنې اړیکې ته دوامداره وده ورکول کېږي او همدغه ملتپالنه د توکمپالنې بنسټ تشکیلوي.

له بله پلوه اسلام د یوې بېلې اړیکې غوښتنه کوي، هغه اړیکه چې خلک د ملتپالنې له ګرداب څخه ژغوري او د یوې ایډیالوژیکې اړیکې ټینګولو ته یې هڅوي. یاده ټولنه به د تقوا پر بنسټ جوړه وي، یعنې له توکمپالنې څخه به پاکه وي. زموږ تاریخ د داسې یوه کمساري بري شاهد دی. یو دولت چې بنسټ یې په صحیح اړیکه ولاړ وي په هغه کې به مسلمانان د ملتپالنې له شومتوب څخه خبر وي. توکمپالنه به نه یوازې د عدلي او قضایي بنسټونو له لارې له منځه ځي، بلکې د یو اخلاقي مکلفیت له لارې به ټولنه د دغې ناوړه کړنې له ریښو وباسي.

**یاسمین ملک**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر**

**ژباړن: صدیق احمدزی**